مطبوعاتي اعلاميه

د سمون او بدلون لپاره د ځوان فعالينو شبکه

د ۱۳۹۴ لمريز کال د وري ۲۶- د ۲۰۱۵ زيږديز کال د اپريل ۱۵

د سمون او بدلون لپاره د ځوان فعالينو شبکه او د افغانستان خلک د هېواد له روان وضعيت څخه اندېښنه لري. شبکه د نا امنيو د زياتوالي، د بدخشان ولايت په جرم ولسوالۍ کې په بې رحمه توګه د ملي اردو د پوځيانو وژنه او د سرونو پرې کول، په کونړ کې له څو ورځو راهيسې د هېواد سرحدي پوليسو محاصره او نورې نا امنۍ، چې هره ورځ د افغانستان خلک له منځه وړي، اندېښنه لري.

د سمون او بدلون لپاره د ځوان فعالينو شبکه د يوه خپلواک بنسټ په توګه؛ دا خپل مسوولیت بولي، څو د افغانستان د خلکو له پټې د حکومت ناسم سياست په ځانګړې توګه د وروستيو نا امنيو او جنايتونو په اړه د ملي يووالي د حکومت د مشرانو نه پاملرنې په وړاندې؛ چې هېواد يې له ناورين سره مخ کړی خپل دريځ روښانه کړي او حکومت ته خبرداری ورکړي، چې د افغانستان خلک، د ملي اردو، ملي امنيت او ملي پوليس د حکومت له جوړيدونکيو دوو ډلو د سياستونو او اختلافونو قرباني نه کړي.

د سمون او بدلون لپاره د ځوان فعالينو شبکه ژمنه ده، څو حکومت ته اجازه ورنکړي، چې د ټاکنيزو ډلو ترمنځ په اختلافونو کې ښکيل وي، خو د افغانستان په هر اړخ او برخه کې هغه افغانان شهيدان شي او په بې رحمه توګه يې سرونه پرې شي؛ چې د افغانستان د عزت او ويار ساتونکي دي.

موږ په دې باور يوو، چې افغانستان په داسې شرايطو کې دی، چې په بدخشان کې د امنيتي ځواکونو د ناغيړي له امله جنايت ترسره شوی، خو د ملي يووالي د حکومت مشران د دې پرځای، چې د امنيت ټينګښت او د امنيتي ځواکونو د پياوړتيا لپاره ستراتيژي او پلان جوړ کړي؛ په خپل منځ کې د حکومتي چوکيو د ويش او امتياز ترلاسه کولو په لټه کې دي.

په دې توګه د سمون او بدلون لپاره د ځوان فعالينو شبکه دا ځل په دې خبري ناسته کې چې د **(د ملي وحشت د حکومت مشران؛ د ملي اردو د سرتيرو د وژنې لاملين)** تر سرليک لاندې جوړه شوې، خپلې اندېښنې په لاندې ډول اعلانوي:

1 -د اړوندو بنسټونو او چارواکيو او ملي يووالي د حکومت مشرانو ناغيړي او بې کفايتي په وړاندې د هېواد د ټولو ځوانانو په ځانګړې توګه د سمون او بدلون لپاره د ځوان فعالينو شبکې دريځ دا دی، چې هغوی د امنيتي ځواکونو ته د

پاملرنې پر ځای د امتیاز ترلاسه کولو او د دوو ټیمونو ترمنځ د چوکیو د ویش په حال کې دی او ملي پوځ، ملي اردو او ملي امنیت ځواکونو د پیاوړتیا لپاره هیڅ راز پروګرام ترلاسه لاندې نه لري .

2 -د ملي یووالي د حکومت مشران باید دې ته ځواب ووایي، چې د بدخشان ولایت په جرم ولسوالۍ دې ستر ناورین او بشري جنایت لامل ستونزه څه وه او که چیرې روښانه ځواب ورکړل نشي، افغانان به د دې ستر ناورین اصلي لاملین د ملي یووالي د حکومت چارواکي په ځانګړې توګه غني او عبدالله و بولي.

3 -موږ په دې باور یوو، چې د ملي دفاع وزیر او د ملي پوځ د مشر پر ټاکلو د ملي یووالي د حکومت د رهبرانو شخړې او مخالف نظرونه په بدخشان کې د دې ستر ناورین او د افغانستان د خلکو د ریښتینو ساتونکیو د وژنې لامل دی.

4 - د سمون او بدلون لپاره د ځوان فعالینو شبکه د دې ترځنګ چې غني او عبدالله د ملي پوځ د سرتیرو د شهادت په اړه مسوول او ځواب ویونکي بولي؛ د امنیتي بنسټونو چارواکي په ځانګړې توګه د ملي دفاع سرپرست وزیر عنایت الله نظري، د ملي پوځ مشر شیر محمد کریمي، د بدخشان ولایت د امنیه قوماندان، په شمال کې د قول اردو قوماندان زلمی ویسا، د بدخشان سرپرست والي او نور هغه کسان، چې وظیفوي ناغیرې یې کړې باید له دندې ګوښه او د قانون منګولو ته وسپارل شي.

5 -د سمون او بدلون لپاره د ځوان فعالینو شبکه په دې باور ده، چې یاد شوي وګړي او نور هغه کسان، چې په دې پیښه کې یې ناغیرې کړې، د دې جنایت اصلي لاملین دي او باید د یوې علني محکمې له لارې سزا وویني.

6 -په داسې حال کې چې؛ د ملي یووالي حکومت او رهبران، چې په شخصي شخړو کې ښکیل دي او د هېواد امنیتي مسایلو ته یې هیڅ راز پاملرنه نه ده کړې او د ملي پوځ د شهید شویو سرتیرو مړي یې د هغوی کورنیو ته یې داسې تسلیم کړي، چې هیڅ راز درناوی ورته نه دی شوی او پرې شوي سرونه او تنې یې نه دي تشخیص شوي او د هغوی کورنیو په خپلو شخصي امکاناتو خپلو کورونو ته لیږلي دي.

7 -موږ غواړو، چې د کورنیو چارو وزارت، د ملي امنیت شورا، د ملی امنیت عمومی ریاست، په ځانګړی توګه د ملي دفاع وزارت او د ملي یووالي د حکومت مشران په بدخشان کې د ترسره شوي جنایت او په کونړ کې د سرحدي پولیسو محاصره کولو په اړه ولس ته روښانه او څرګند ځواب ورکړي.

8 -دا شبکه د ملي یووالي د حکومت له چارواکیو غواړي، څو خپل منځي شخړې لیري او د ملي دفاع وزیر او د ملي پوځ د لوی درستیز د ټاکلو په برخه کې هر اړخیز اقدامات وکړي، څو بیا ځلې په امنیتي لیکو کې د کمزوري مدیریت له امله د ورته جنایت شاهد و نه اوسو. که چیرې غني او عبدالله د خپل منځیو اختلافانو څخه لاس وانخلي، نو غوره به دا وي، چې افغانستان تر دې زیات د خپلو شخصي غوښتنو قرباني نه کړي او واک پرېږدي.

و من الله توفیق

د سمون او بدلون لپاره د ځوان فعالینو شبکه

کابل

د بیان مطبوعاتي تالار